



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د دي ستر محدث، امام الحفاظ والمسلمین ،شیخ الاسلام ، امیرالمؤمنین فی الحدیث او حجة المجتهدین داحn والو ،مناقبو او اثارو په اړه خوخبرې دومره زیاتي دي چې دهغو ټول اړخونه راسپړل تروس وتلې خبره ده ،ځکه دا یو داسي بې ساحله سمندردی چې ورڅخه تېرېدل که ناشوني نه وي نوسخت خوهرومرودي،له همدې کبله دهغه رحمه الله لنډژوندلیک،مناقب او اثارپه ساده اوروانه ژبه او اسانه طریقه رااخلوترڅومحترم طالبان ورڅخه پوره استفاده وکړي

د امام بخاری رحمه الله ژوند ته لنډه کتنه

دصحیح البخاري دمصنف نوم محمد او دپلار نوم یې اسماعیل دی چې دنسب سلسله یې په دي ډول ده : محمدبن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیره بن بردزبه الجعفی البخاري.

لوړجد یې بردزبه دی،حافظ ابن حجر رحمه الله دفتح الباري په مقدمه ۴۷۷ مخ کې دبا په زور،دراء په غړوندي،ددال په زبر،دزاء په غړوندي چې وروسته ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوردرلودونکي باء اوترهغه وروسته هاده ،ليکلي دي، همدايې مشهور شکل دی ،اوځينونوروېې يو بل شکل هم بيان کړی.

بردزبه په فارسي کې دبخاری داوسېدونکوپه اصطلاح کروندګرته ويل کېږي،دی فارسي زبانه مجوسي ؤچې همدايې دخپل پلاردين ؤاوپرهمدې وفات شو ،خومغيره د بخارا دوالي يمان الجعفي په لاس مسلمان شونوهمده ته يې نسبت وشو ،اوپه جعفي يادشو ،دادهغه چادمذهب پربناء چې وايې کوم څوک چې ديوچاپه لاس مسلمان شي ولاء يې هم دهغه ده اونسبت يې هم هغه ته کېږي،له همدې کبله امام بخاري رحمه الله هم په امام ابوعبدالله الجعفي سره يادېږي.

حافظ ا بن حجر رحمة الله عليه وايې : د بخاري د نيکه إبراهيم بن المغيرة په هکله معلومات نه لرم ،البته د بخاري پلار اسماعيل بن ابراهيم د ابن حبان په وينا د حماد بن زيد او مالک رحمهما الله څخه حديث اوريدلي دي .

امام ذهبي رحمة الله عليه په تاريخ الاسلام کې وايې چې دامام بخاري پلار[اسماعيل] له ډيرو تقواداروعلماؤ څخه وو ، نوموړی دامام محمدرحمه الله د شاګرد امام ابوحفص الکبيرملګری، اودمرګ پروخت يې وصي ؤ.

امام ابن حبان دنوموړی شمار په څلورمه طبقه کې کړی ، له امام مالک اوحمادبن زيدڅخه يې روايتونه کړي اوله ابن المبارک سره يې مصافحه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله هغه يې هم روايت کړی ،اوله ده څخه بيا احمدبن جعفر ، نصربن علي اونورومحدثينو روايات کړي

أحمد بن حفص رحمة الله عليه وايې: زه د بخاري پلاراسماعيل ته ورغلم هغه د مرګ په حالت کې وو ما ته يې وويل: زما د علم له مخې زما په ټول مال کې يو شکمن درهم لا هم نشته .

همداددي حلالي نفقې اثرؤ چې الله جل جلاله د اسماعيل له زوی څخه امام بخاري غوندي دحديثوستر امام جوړ کړ.

امام بخاري رحمة الله عليه په ۱۹۴ هجري سنه کې د شوال پر ۱۳ نېټه د جمعې په ورځ تر لمانځه وروسته په بخارا کې زېږېدلی دئ.

بخارا دمنځنۍ اسيامشهوراوپېژندل شوی ښاردی چې د پخواني ماوراء النهر] د امو د سيند هاخوا(اوسني ازبکستان) کې واقع دی . دبخارا او سمرقند تر منځ ۸ ورځي دپياده مزل لاره ده.

داښاردفقهاؤ،سترومحدثينواوفاضلانومرکزاومعدن ؤ. په دې ښار کې په دومره ګڼ شمېرفقهاء ،محدثين او فاضلان تېرشوي چې دهغوی ټولويادول امکان نه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخاري رحمة الله علیه لاماشوم ؤ چې پلار یې وفات شو او خپلې مور یتیم را لوی کړ،

دنومورې مور چې ډېره نیکه میرمن وه په خپل وار سره د خپل زوی ډېره ښه پالنه وکړه او کله به یې چې نوموړي ته پیـ یاشیدي ورکولې لومړی به یې اودس کاوه.

هغه مهال چې په نوموړي کې دلیک اولوست قوه پیداشوه نو مور یې په مکتب کې داخل کړ چې لیک او لوست زده کړي او د همدې لیک لوست له لارې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکو احادیثو خدمت وکړي.

ویل کیږي چې محمد [امام بخاري ] په ماشومتوب کې ناڅاپه د سترګو لید [دید] له لاسه ورکړ ،نو مور یې چې یوه عابده او ډیره تقواداره ښځه وه ډېره خفه اوخوا بدې شوه او هغه هیلې یې مړاوي شوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثو د خدمت په لاره کې یې له خپل زوی څخه لرلې،هغې به ډېرزیات ژړل او دعاګانې به یې کولې چې خدای پاک یې زوی بیرته په سترګو بنااوجوړ کړي، هم هغه وه چې یوه شپه یې په خوب کې حضرت ابراهیم علیه السلام ولید ، هغه ورته وویل چې اې فلانۍ ! ستا دعاګانې خدای پاک قبولې کړې له نن څخه به وروسته ستا د زوی سترګې روغې شي،کله چې هغه سهار له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبه را وينبه سوه ګوري چې د محمد بن اسماعيل دواړي ستر ګې روغي شوي دي..

ابو جعفر محمد بن ابي حاتم وايي : ما له امام بخاري څخه پوښتنه وکړه چې: علم ته دي څنګه مخه کړه ؟ هغه را ته وويل : زه دلسو کالو ياتردي دکم عمرما شوم وم په مکتب کې مي سبقونه ويل چې په زړه کې مي د حديثو د زده کړي فکر را ته پيدا شو د لس کلنۍ وروسته له مکتب څخه ووتم ،يوې او بلي خوا ته د حديثو په تلاش کې شوم .

يوه ورځ د امام داخلي رحمه الله په درس کې ناست ؤ ،هغه شاګردانو ته حديث بيان کړل اوويې ويل: سفيان عن ابى الزبيرعن ابراهيم،نوبخاري ورته وويل: ابوالزبيرله ابراهيم څخه روايت نه دى کړی،نوامام داخلي ورته په غوصه شو ،اودده خبرې ته يې پام ونه کړ. بخاري رحمه الله ورته وويل: خپل ليکل شوی کتاب دي که درسره ويې وګوره،کورته ولاړاو هغه يې وکوت،چې راستون شوويې ويل: هلکه ! صحيح صورت يې څه ډول دی؟ ده ورته وويل :دازبيربن عدی عن ابراهيم دی،نوقلم يې ورواخيست اوخپل کتاب يې تصحيح کړ،اوورته ويې ويل: رښتيادي وويل. نوخلک ددې نوي ځوان يادا وحافظې ته حيران شول ،په دې مهال دامام بخاري رحمه الله عمريوولس کاله ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخاري رحمة الله عليه وايي: په شپاړس کلنۍ کې مې د ابن المبارک او وکيع کتابونه ياد کړل ،او د اصحاب الرأي يعني د فقهاوو په ويناوو هم وپوهيدم ،

نوموړی له خپلې مور او خپل مشر ورور احمد سره مکې ته ولاړ، د حج فريضې له اداء کولو وروسته يې ورور او موربيرته بخارا ته راستانه شول ، او بخاري په مکه کې د حديثو د زده کړې لپاره پاتې شو.

دحرمينو او شاوخوا نورو مشايخو څخه يې حديث اونوراسلامي علوم زده کړل،هلته يې دوه کاله تېر کړل،په مدينه منوره کې يې درسول اکرم صلی الله عليه وسلم دروضې خواته په سپوږمېزو شپو کې دقضايا الصحابة والتابعين اوالتاريخ الکبير په نومونو دوه کتابونه وليکل،هغه مهال نوموړی د ۱۸ کاله ؤتر دې وروسته بخارا ته راستون شو.

په علم پسې دامام بخـاري رحمه الله سفرونـه

تـــردې وروسته امـــام بخاري رحمه الله دحديثونو اونبوي علومو دزده کړې لپاره په سفرونو پيل وکړ،په دې لړ کې يې ګڼو اسلامي هيوادونو او ښارونو ته له ستړيا ډک سفرونه وکړل چې ديادونې وړيې شام ،بلخ،مصر،جزيره اونوردي،يوازي بصرې ته څلورځله ولاړ ، او شپږ کاله يې په حجاز کې تېر کړل اونوموړي څو څو وارې کوفې او بغدادته هـــم دعلم حاصلولو په موخه سرورښکاره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې سفرونو پرمهال نوموړی له ډېروستونزو ، کړاؤنو اوسختیو سره هم مخ شو ،خوداټول یې په ډېرزغم اوصبر سره وګالل،په دې لار کې چې له هرڅومره ناخوالو سره لاس اوګرېوان شو ټول یې په ورین تندي وزغمل. ځکه هغه په دې سره دالله جل جلاله له دربارنه دثواب اواجرهیله درلوده،اودهمدې مشکلاتوپه ګاللوسره هغه ترقیامت پورې دامت مسلمه امام اوپیشوا شو .همدارازد الله جل جلاله اوخلکوپه منځ کې مقبول اومحبوب شو .

دامام بخاري رحمه الله استادان

نوموړي دوخت له نامتواو وتلیومحدثینوڅخه احادیث زده کړل، له ستروحدیث پوهانوڅخه یې ولیکل اوهرښارته چې دی ورغلی ؤدروایت له مشهوروعلماؤڅخه یې روایتونه نقل کړل، پرګڼ شمېراستادانواودبېلابیلو طبقوپرعلماؤیې سبقونه ولوستل ،چې شماراودهغوی دتعداد بیانول یې یومشکل کاردی،

دفتح الباري دمقدمې په ۴۷۹ مخ اودکوکب الداري په۱۱مخ کې په خپله دامام بخاري رحمه الله قول نقل شوی دی چې وایې : ماله ۱۰۸۰ هغوکسانوڅخه زده کړه کړې چې یوازې حدیث پوهان ؤ ، حافظ ابن حجر رحمه الله دامام

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخاري رحمه الله استادان دخپل کتاب فتح الباري په مقدمه کې پنځو طبقو ته ویشلي او په همدغو کې یې حصر کړي دي. (فتح الباری ۴۷۹مخ)

همدارازحافظ عیني په عمدة القاري اوعلامه ذهبي په سیراعلام النبلاء (۱۳ / ۳۹۲) کې هم دغوطبقوته تقسیم کړي دي. اوشیخ سبحان محمود رحمه الله [ددارالعلوم کراچی پخوانی شیخ الحدیث] په خپلو دې الفاظو کې داطبقات په لنډه ول بیان کړي دي.

(۱) لومړۍ طبقه: هغه ده چې ده ته یې له سترو تابعینو څخه احادیث روایت کړي لکه: محمدبن عبدالله الانصاري هغـه لـه حمید څخه روایت کړی، ابن ابراهیم اوابن عاصم النبیل دوی دواړوله یزیدبن ابی عبید څخه روایت کړی، عبیـد الله بـن مـوسی چې ده له اسمـاعیل بن ابی خالد څخه روایت کړی او ابن نعیم چې له اعمش اونوروڅخه یې روایت کړی . داټول ددوی استادان دي اوسترتابعین دي.

(۲)دوهمه طبقه: هغه ده چې ده ته یې له ټیټ رتبه تابعینو څخه روایت کړی وي لکه :آدم بن ابی ایاس،ابی مسهر عبد الاعلی بن مسهر،سعیدبن ابی مریم،ایوب بن سلیمان اود اسي نور.

(۳) دریمه طبقه : هغه دي چې له تابعینوسره یې نه دي لیدلي،بلکه له ستـروتبع تابعینوڅخه یې اخـذکړی لکه : سلیمان بن حرب،قتیبه بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعید ،نعیم بن حماد ،علی بن المدیني،یحی بن معین،سترفقیه امام احمد بن حنبل،اسحق بن راهویه،ابوبکربن ابی شَیبه،عثمان بن ابی شَیبه او داسي نور ،خوپه دې طبقه کې امام مسلم رحمه الله هم له امام بخاري رحمه الله سره د روایت په نقل کې شریک دی. (یعنـــي لکه څرنګه چې امام بخاري رحمه الله له دې طبقې څخه روایت کړی،همـــدارازامام مسلم رحمه الله هم ورڅخه روایت کړی دی.

(۴) څلــورمــه طبقه : دحدیثوپه طلب اوزده کړه کې دده ملګري اوانډیوالان،خوهغوی ترده لږوړاندي دده له ځینو استـــادانـــوڅخه زده کړي کړي وي لکه :محمدبن یحی الذهلی،ابی حاتم الرازي،عبدبن حمید اوددوی امثال. ده رحمه الله له دې کســانوڅخه یواځي هغه څه حاصل کړي چې خپله یې هغواستادانو ته لاس رسی نه درلوداویابه داسي موادؤچې له دوی پرته له بل چاسره به نه موندل کېدل.

(۵) پنځمه طبقه : دده خادمان اوشاګردان دي لکه :عبدبن ابی العـــاص الخـوارزمي،حافظ ابوعیسی ترمذي،حافظ ابـــوعبـدالـــرحمن النســـائي اوددوئ امثال.

امام بخاري رحمه الله له دې کسانوڅخه هم کم شمېر روایات کړي اوده چې له امام و کیع رحمه الله څخه کوم روایت کړی ؤهغه یې عملی کړی هم ؤ ، ځکه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېع رحمه الله وايي: لايکون الرجل عالماحتی يحدث عمن فوقه،وعمن هومثله، وعمن هودونه.

يعني يوڅوک ترهغوسم عالم نه کيدای نه شي ترڅوچې له مشرانو ، همزولو اوکشرانوڅخه روايت ونه کړي.

دامام بخاری رحمه الله شاګردان

لــــه امــام بخاري رحمه الله څخه ګڼ شمېرعلماؤ او فقهاؤزده کړه کړي، اوګڼ شمېرمحدثينو احاديث ورڅخه روايت کړي.

دامام بخاري ديـومشهورشـاګردالفربري رحمه الله يوقول دفتح الباری په مقدمه(مخ۴۹۱) کــي حافظ ابن حجر رحمه الله نقل کړی دی وايي چې: له امام بخــاري رحمه الله څخه جــامــع صحيح البخاری۹۰زره کسانواوريدلي ده .دده دشاګردانو شمېردومره زيات دی چې دټولوبيانول يې خورامشکل کار اود ډيروالي له امله يې يادونه هم نه له دي ځای سره مناسبه ده اونه هم ممکنه ده.

دلته به موږيوازي دنوموړي ديوڅومشهـورو شــاګـردانوپه يادونه اکتفا ء وکړو ، دده سترستر شاګردان چې دعلامه په لقبونو يادشوي ځيني يې په لاندي ډول دي: حافظ ابوالحسين مسلم بن الحجاج نيشاپوري، دجامع ترمذی مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library



حافظ ابوعیسی ترمذي ،حافظ ابوذرعه،ابوحاتم رازي، دسنن نسائي مؤلف ابوعبدالرحمن النسائي ، منصوربن احمدالبزدوي ، دصحیح بخاري راوي ابوعبدالله الفربري ، ابوعبدالله المحاملي،حافظ ابن خزیمه اومحمدبن نصر المروزي .

### دامام بخاري حافظه

امام بخاري رحمة الله علیه زیات ځیرک او د غیرمعمولي قوي حافظې څښتن و ، ویل کېږي چې په وړکتوب کې یې اویا زره حدیثونه یو په بل پسې یاد وه ، او یو کتاب چې به یې یو ځل تر نظر تېر کړ نوټول به یې یاد شو بیا یې د هغه کتاب کتلو ته اړتیا نه درلوده .

محمد بن حمدویه وایې ماله امام بخاري ځخه واورېدل هغه ویل: زما یو لک صحیح حدیثونه یاد دي او دوه لکه مي غیر صحیح حدیثونه یاد دي او د صحیح البخاري حدیثونه ما تقریبا د شپږو لکو حدیثونو ځخه را ایستلي دي .

احمد بن عدي وایې : ما له ډېرو شیخانو اورېدلي دي ، چې هغوی حکایت کاوه هغه مهال چې بخاري و بغداد ته راغی نو څو تنو محدثینو وغوښتل چې بخاري رحمة الله علیه وازمایې ،نو د سلو حدیثونو متنونه او سندونه یې سره واړول د یوه حدیث متن یې د بل حدیث و سند ته واړوئ او بیا یې یوه یوه نفر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس لس حديثونه ورکړه ترڅو بخاري ته يې واوروي ، د بغداد خلک او د دې ترڅنګ د خراسان او نورو وطنونو مسافر را ټول سول ، څه مهال چې د خلکو مجمع جوړه سوه نويو تن ولاړ سو د خپلو لسو حديثونو څخه يې د يوه يوه حديث سند او متن بيانوه امام بخاري چې به د هر حديث سند او متن واوريد نو ورته و به يې ويل: په دې حديث علم نه لرم ،

کومو کسانو چې د بخاري د امتحان لکبله د دې حديثونو متنونه او سندونه اړولي وه هغو يوه و بل ته کتل چې سړی خورا ډېر ځيرک او پوه دئ ، خو کوم کسان چې ناخبره وه هغو ته بخاري رحمة الله عليه کمزوری ښکاره شو.

دې لسو کسانو چې هر يوه په نوبت لس لس حديثونه بخاري ته واورول ، او بخاري د هر حديث په جواب کې ورته ويل : چې علم نه په لرم د دوئ له فراغت وروسته بخاري هر نفر ته د هغه د هر حديث متن او سند بيان کړ ، چې تا د اول حديث متن داسي او سند داسي بيان کړ، خو د دې حديث متن او سند اصلا داسي دی. دوی چې دا سل حديثونه په څه ډول ورته بيان کړي وه امام بخاري په هغه ترتيب بېرته ورته بيان کړل او دهريوه غلطي يې هم ورته په ګوته کوله ، چې د دې حديث متن داسي او سند يې داسي دی ،نو ټولو خلکو د امام بخاري پر ځيرکتيا ، قوي حافظې او علميت اعتراف وکړ، اوويل يې دا د الله فضل دی چې چا ته وغواړي هغه ته يې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امام بخاري د سترو علماؤ له نظره

د امام بخاري رحمة الله عليه په حفظ ، تقوا او زهد د ده موافق او مخالف ټول قايل وه او په محدثينو کې د امير المؤمنين في الحديث ، ناصر الأحاديث النبوية او ناشر المواريث المحمدية په لقب ياد شوی.

امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه وايي : خراسان د محمد بن اسماعيل په شان بل نه دی زېږولی.

امام ترمذي رحمة الله عليه وايي : ما په تاريخ او د حديثو د سندنو او علتونو په پېژندنه کې تر محمد بن اسماعيل يعني بخاري رحمة الله عليه لوی عالم په عراق او په خراسان نه دی ليدلی .

د بخاري اومسلم شيخ محمد بن بشار رحمة الله عليهم وايي په نړۍ کې د حديثو څلور حافظان دي ، (۱)امام بخاري په بخارا کې (۲) امام مسلم په نيشاپور کې ، (۳)علامه دارمي په سمرقند کې (۴)او ابو الزرعة په ري کې . علي بن حجر رحمة الله عليه وايي :امام بخاري په دوی ټولو کې زيات پوه ، دبصيرت څښتن او ځيرک ؤ

ابو اسحاق السرماري رحمه الله وايي: که څوک غواړي چې د وخت رېښتونی فقيه ووينې نو امام بخاري رحمه الله ته دې وګوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو جعفر رحمه الله وايي: يوه ورځ مې له يحيى بن جعفر رحمه الله څخه واورېدل چې ويل يې: که زما په وس پوره واى ما به خپل عمر محمد بن اسماعيل البخاري رحمه الله ته ورکړى واى؛ ځکه چې زما مرګ د يو سړي مرګ دى او د امام بخاري رحمه الله مرګ د علم د مرګ په معنا دى .

نعيم بن حماد رحمه الله وايي: محمد بن اسماعيل رحمه الله د دې امت فقيه دى . مصعب الزهري رحمه الله وايي: امام بخاري رحمه الله زموږ د زماني لوى فقيه او په احاديثو کې د ښه بصيرت څښتن دى .

په يو روايت کې دي چې اسحاق بن راهويه رحمه الله يوه ورځ خپلو شاګردانو ته وويل: له دغه ځوان (امام بخاري رحمه الله) څخه احاديث وليکئ، زه باور لرم چې له ده سره د احاديثو دومره علم دى چې که د حسن بصري رحمه الله په زمانه کې واى نو هم به هغه ته خلک اړ ؤ .

علي بن جعفر رحمه الله به ويل: زما په اند په خراسان کې درې تنه عالمان تر ټولو وتلي دي: ابوزرعه، محمد بن اسماعيل، او عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي؛ خو محمد بن اسماعيل تر ټولو لوړ دى .

ابو عمار حسين بن حريث رحمه الله به ويل: امام بخاري رحمه الله په احاديثو کې داسې لوړ مقام لري ، لکه الله چې يوازې د حديثو له پاره پيدا کړى وي . حاتم بن مالک الوراق رحمه الله وايي: ما د مکې له علماوو څخه اورېدلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ويل به يې: محمد بن اسماعيل يوازې د خراسان امام نه دی، بلکه زموږ امام او فقيه هم دی .

أبو الطيب حاتم بن منصور رحمه الله وايي: امام بخاري رحمه الله د زمکې پرسر د الله له نښانو څخه يوه ښکاره نښانه وه .

سليم بن مجاهد رحمه الله وايي: که د امام بخاري رحمه الله په زمانه کې وکيع، ابن عيينة ، ابن المبارک رحمهم الله ژوندي وای هغوی به هم نوموړي ته اړتيا لرله .

د امام بخاري رحمه الله مشهور استاد او د حديثو امام قتيبة بن سعيد رحمه الله وايي: که امام بخاري رحمه الله د صحابه کرامو په منځ کې وای نو د الله يوه معجزه به وه، دی وايي: ما حديث هم کتلي، راويان مې هم کتلي او فقهاء مې هم ليدلي؛ خو د محمد بن اسماعيل غوندې شخص ما په خپل عمر کې نه دی ليدلی .

أبو عبد الله الحاکم رحمه الله وايي: امام بخاري رحمه الله د محدثينو ستر امام دی.

د محدثينو ستر استاذ أبو بكر محمد بن إسحاق بن خزيمة رحمه الله وايي: تر اسمان لاندې[يعني دزمکې پرسر] ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



احاديثو کې تر محمد بن اسماعيل البخاري رحمه الله ښه پوه شخص بل نه دی ليدلی .

محمد بن حمدون بن رستم رحمه الله وايي: امام مسلم رحمه الله چې کله بخارا ته راغی او له امام بخاري رحمه الله سره مخ شو ورته ويې ويل: اې د استاذانو استاذه، د محدثينو سرداره او د حديثو طبيبه ! پرې مې ږده چې پښې دې ښکل کړم .

سعيد بن جعف رحمه الله وايي: ما د بصرې له علماوو څخه اورېدلي دي چې ويل يې: په معرفت او اصلاح کې د محمد بن اسماعيل رحمه الله په شان بل څوک په دنيا کې نشته .

د بخارا يو لوی عالم محمد بن ابي حاتم الوراق رحمه الله وايي :يوه شپه مې امام بخاري رحمه الله په خوب وليد چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې روان دی او هغه صلی الله عليه وسلم چې قدم پورته کړي امام بخاري رحمه الله په هماغه ځای قدم کښېږدي.

دامام بخاري دتقوی نمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام بخاري رحمة الله عليه په روژه کې هره ورځ يو يو ختم کاوه او د تراويح څخه وروسته د شپې په لمانځه کې يې په هرو درو شپو کې ختم کاوه او د پېشلمي په مهال به يې ديارلس رکعته د تهجد لمونځ کول.

امام بخاري رحمة الله عليه هيڅکله دچا غيبت نه کاوه او ويل به يې چې: زه اميد لرم چې په آخرت کې به الله جل جلاله د چا د غيبت حساب راسره و نه کړي، او وايې: له هغه مهاله چې زه په دې پوهېدلی يم ، چې غيبت خپله غيبت کونکي ته زيان رسوي نوله هغه وخت څخه مې د چا غيبت نه دی کړی .

يو چا امام بخاري رحمه الله ته وويل چې : ځيني کسان ستا سود تاريخ د کتابونو له امله تاسو ته ګوته نيسي او وايي چې په تاريخي حکايتونو کې د خلکو غيبت راځي ، امام بخاري ورته وويل: هغه موږ د نورو څخه د روايت په ډول بيان کوو موږ يې له خپله ځان څخه نه بيانوو.

امام بخاري رحمة الله عليه ته له خپل پلار څخه ډېر مال په ميراث پاته شو د هغه څخه يې صدقه او خيرات کاوه ، د طالبانو سره يې ډېر احسانونه کول ، او په سخاوت کې يې لاسونه اوږده وه او خوراک يې هم ډېر کم کاوه.

د خپل عصر پر علماوو د نوموړي لوړتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي لا ځوان و چې د وخت لويو لويو علماوو به دهغه څخه حديثونه زده کوله

امام يوسف بن موسى المروذي رحمه الله وايي: يوه ورځ زه د بصرې په لوى جومات کې ناست وم چې دا اعلان وشو چې محمد بن اسماعيل البخاري راغلى دى، نو ټول خلک ور ولاړ شول ، زه چې کله ورغلم ګورم چې يو ځوان د يوې ستنې وشاته په لمانځه باندې ولاړ دى، کله چې هغه سلام وګرځول ، نو خلک ورباندې را ټول شول او غوښتنه يې ورنه وکړه چې هغوى ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو څو حديثونه بيان کړي، امام بخاري رحمه الله ورته وويل: چې زه خو ځوان يم نو تاسو ته به يوازې هغه حديثونه بيان کړم چې ستاسو د سيمې له علماوو کرامو څخه مې اورېدلي دي نو يو شمير احاديث يې بيان کړل.

محمد بن يعقوب بن اخرم رحمه الله وايي: امام بخاري رحمه الله چې کله نيشاپور ته راروان و ددې ځاى په زرګونو خلک درې رباطه مخته د نوموړي وهر کلي ته را وتلي وه، دى وايي: ځينو ملګرو راته وويل چې په هغه ورځ موږ خلک وشمارل نو يوازې د هغو خلکو شمير وڅلور زره تنه ورسيدى کوم چې په کچرو يا غاترو باندې راغلي و او هغه چې په اسونو يا پياده راغلي وو، تر دې هم زيات وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څه موده چې بېرته بخارا ته راستنیدو نوله ښار څخه درې میله د باندي د استقبال د پاره خېمه ورته درول شوي وه.

## له بخارا څخه د نوموړي ایستل

نوموړي په بخارا کې څه موده د حدیثو په تدریس بوخت ؤ ، د ښار امیر خالد بن محمد الذهلي چې په سیمه کې د عباسي خلافت نائب وو له امام بخاري سره په دي هیله نرم چلند کول چې صحیح البخاري د ده په قصر کې ور ته تدریس کړي ،خو امام بخاري له دې کار څخه منع وکړه ، او قاصد ته یې وویل چې والي صاحب ته وو ایه: زه علم نه خواروم او نه علم د پاچاهانو دروازو ته ور وړم که علم ته څه اړتیا لري نو زما مسجد او کور ته دي راځي. خو که دا خبره یې خوښه نه وي نو بیا خو دی واک لري زما د تدریس مخه دي ونیسي ترڅو د قیامت په ورځ د الله جل جلاله په حضور کې عذر ولرم ،زه خو علم نه شم پټولی.

والي بیا یو قاصد ورته راولېږل چې زما و اولادونو ته یوه ځانګړي تدریسي حلقه جوړه کړه او نور کسان مه ور سره پرېږده ، امام بخاري دا هم ونه منله او په جواب کې یې ورته وویل: دا جایز نه ده چې زه ځینو ته د حدیثو د اورېدلو اجازه ورکړم او ځیني نور بیا ورڅخه منع کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې سره د بخارا د والي او امام بخاري رحمه الله تر منځ اړیکې ترینګلې شوې او کرکه یې تر منځ پیدا شوه ، خالد د بخارا والي حریث بن ابي الورقاء او نور علماء د امام بخاري په مخالفت کې د ځان ملګري کړل ، هغوی د امام بخاري پر تګلارې او مذهب نیوکې وکړې او والي امام بخاري ته له ښار څخه د وتلو امر وکړ.

بخاري رحمه الله هغوی ته داسې ښیرا وکړه : یا الله ! د دوی په ځانونو ، اولادونو او کورنیو کې په دوی هغه څه و وینه چې دوی یې زما سره د کولو اراده کړې ده. الله جل جلاله د بخاري ښیرا د دوې په حق کې قبوله کړه میاشت لا نه وه تېره شوې ، چې د عباسي خلافت لخوا د بخارا د والي خالد د بندي کولو او په ښار کې یې د رسوا کولو فرمان صادر شو ، خالد پرخرې باندې سپور په ښار کې وګرځول شو ، او د مرګ تر مهاله په بندیخانه کې پاته شو ، نورو کسانو چې له ده سره د امام بخاري په ځورونه کې مرسته کړې وه هغوی هم الله جل جلاله د سختو کړاونو او مشکلاتو سره مخ کړل.

امام بخاري رحمه الله چې څه مهال د بخارا څخه ولاړ نو د سمرقند خلکو خط ورته راولېږل چې په هغه کې له ده څخه سمرقند ته د ورتلو غوښتنه شوې وه ، امام بخاري د سمرقند په لور روان شو ، له سمرقند څخه ۲ میله دباندې د خرتنک کلی دی ، څه مهال چې بخاري د خرتنک کلي ته ورسېد ، هلته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلوان وه او له هغوی سره میلمه پاته شو ، امام بخاري په خرتنک کې وو چې خبر ورته راغی چې په سمرقند کې د ده د ورتلو لکبله د خلکو تر منځ شخړه او جنجال را پیدا شوی دی ځیني کسان د بخاري د ورتلو پلوي کوي او ځیني نور یې بیا د ورتلو سخت مخالفت کوي.

امام بخاري رحمة الله علیه په خرتنک کې څه موده پاتې شو تر څو موضوع ښه روښانه شي، په دي وخت کې امام بخاري ناروغ شو ، د سمرقند لخوا استازي راغلل او له امام بخاري څخه یې غوښتنه کوله چې سمرقند ته ور سره ولاړ شي ، امام بخاري د هغوی بلنه ومنله، موزې یې په پښو کړې لنګوټه یې وتړله او د سپرلۍ پر خوا ور روان شو فقط چې څو قدمه یې د سپرلۍ پر خوا واخستل ملګرو ته یې مخ راواړول اوویې ویل: ما پرېږدئ ضعف را ته پېښ شو هغوی هم پرېښود ، یوه شپه یې تر لمانځه وروسته دعاوي وکړي په دعا کې یې دا هم وویل: اللهم أنه قد ضاقت علي الأرض بما رحبت فاقبضني إلیک.

ژباړه: یا الله ! مځکه له ډیري پراختیا سره سره پر ما تنګه شوه ته مي روح در قبض کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې ځنګ وواهه لږموده وروسته له خپل رب سره ملاقي شو اوروح یې داعلی علیین پرلوري والوت ، انالله واناالیه راجعون.

امام بخاري رحمة الله علیه په **۲۵۶** هجري سنه کې د شنبې په شپه چې د کمکي اختر شپه وه دیارلس ورځې کم د **۶۲** شپېتو کلونو په عمر په خرتنګ کې وفات شو ، په نوموړی دکمکي اخترپه ورځ دماسپښین له لمانځه وروسته دجنازې لمونځ وشو چې له سمرقنداونوروسیموڅخه ګڼ شمیرخلک په جنازه کې دشریکیدلولپاره راغلي ؤ اوپه همدې خرتنګ کې خاوروته وسپارل شو ،هغه مهال چې نوموړی په قبر کې کښېښودل شونو د قبر له خاورو څخه یې څو ورځې د مشکو په شان خوشبویي ولاړیده

دصحیح البخاري لیکل اودهغه نوم

حافظ ابن حجر رحمه الله دفتح الباري په مقدمه **۸** مخ کې لیکي : نوموړي خپل کتاب په [ الجامع الصحیح المسند من حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم ، وسننه ، وایامه ] سره نومولی

اوعلامه عیني رحمه الله بیاد عمدة القاري دلمړي ټوک په **۵** مخ کې دصحیح البخاري په نامه کې دالمسند په ځای المختصر توری ذکرکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله امام بخاري وايي : ما « الجامع » له شپږسوه زره حديثونو څخه په شپاړس کلونوکې تصنيف کړ اود الله جل جلاله اودځان ترمابين مي حجة جوړکړی

همدارازدده په يوه قول کې راغلي : ماخپل کتاب الجامع په مسجدحرام کې تصنيف کړ ، ترهغه مي پکې هيڅ حديث نه دی ليکلی ترڅوچې به مي استخاره اودوه رکعته نفل ونه کړل اودهغه حديث په صحت به مي پوره يقين ونه شو ،

اوله همده څخه رانقل شوي چې: ما په خپل کتاب کې چې هر حديث ليکلی دی لومړی مې دهغه دليکلولپاره غسل کړی او بيا مې دوه رکعته نفل کړي دي او بيا مې هغه حديث ليکلی دی.

حافظ ابن حجر په مقدمة الفتح ۴۹۸ کې ليکي: ددي اومخکنۍ خبري چې په مختلفوسيموکې يې دبخاري حديث ليکلي په دي ډول تطبيق راځي چې ددي تصنيف شروع اودابوابو ترتيب خويې په مسجد الحرام کې وکړاونور حديثونه يې په خپل ښار اومختلفو سيموکې پکې ليکلي ، چې خپله دده له قول چې داکتاب يې په شپاړس کاله کې ليکلی هم په همدي دلالت کوي ،ځکه ښکاره خبره ده چې نوموړي شپاړس کاله په مکي حرم کې نه دی پاتي شوی .علامه عيني رحمه الله هم همدا خبره کړي ۵/۱

دبخاري دليکلو لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه عبدالعزيز الدهلوي رحمه الله په بستان المحدثين کې ليکلي: امام بخاري يوه ورځ داسحاق بن راهويه په مجلس کې ناست ؤ چې هغه خپلو ځينو شاګردانو ته وويل: کاشکي چې يو چا داسي مختصر کتاب په سننو کې ليکلی وای چې په هغه کې يې يوائې صحيح احاديث راټول کړی وای چې خلکو وربانديي عمل کړی وای ، نوله همدي ورځي دامام بخاري رحمه الله په زړه کې دهمداسي يوه کتاب ليکلو مينه اورغبت پيداشو ، اودکتاب په ليکلويې پيل وکړ

هغه له شپږ سوه زره [شپږلکه ] احاديثوڅخه پکې هغه ډيرصحيح احاديث راټول کړل اوځيني يې دکتاب دډيراوږدوالي له امله پريښودل

په عمدة القاري ۱/۵ اوهمدارازپه تقريب النواوي اوفتح الملهم کې دي چې دالمړی کتاب دی چې په الصحيح المجرد کې ليکل شوی.

علامه ابن حجر يې بيادبخاري شريف دليکلو يوه بله وجه ليکلي: هغه وايې چې محمدبن سليمان بن الفارس وايې : ماله امام بخاري رحمه الله څخه اوريدلي ويل يې چې: مارسول الله صلى الله عليه وسلم په خوب کې وليد زه دهغه مخې ته ولاړوم اوديوه پکي په مټ مې له هغه څخه مچان شړل ، بيامې ددي خوب په اړه له ځينو تعبيرپوهانو څخه تعبيروغوښت ، هغوی راته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



:تاسو به له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دروغ لیري کوئ ، نوهمداؤ چې زه یې دداسي کتاب لیکلو ته لیوال کړم ، مقدمة الفتح ۸ مخ .

## دصحیح البخاري مقام

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکي: ابو جعفر محمود بن عمرو العقیلي وایې: هغه مهال چې امام بخاري «الصحیح» ولیکل نویې امام احمد بن حنبل ، یحیی بن معین ،علی بن المدیني اونوروسترو علماؤ ته وړاندي کړ، هغوی له څلورو حدیثونو پرته نورټول احادیث صحیح وبلل ، عقیلي وایې په دي حدیثونو کې دامام بخاري قول داعتباروړدی هغه داچې داحدیثونه صحیح دي . مقدمة الفتح ۴۸۹ مخ

په دي خبره دټولي اسلامي نړۍ د متقدمینو اومتاخرینو علماؤ اتفاق دی چې له کتاب الله وروسته ترټولو اصح کتاب صحیح البخاري اوصحیح المسلم دي ، اوجمهورعلماء بیا په دي یوه خوله دي چې صحیح البخاري ترصحیح المسلم اصح دی ،که څه هم ځیني علماء ـ د المغرب[ اندلس] علماء ـــ صحیح مسلم ته په صحیح البخاري باندي ترجیح ورکوي

## دصحیح بخاري روایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندي موويل چې له امام بخاري رحمه الله څخه ګڼ شمیر شاګردانو روایتونه کړي ، دهغه یو مشهورشاګرد الفربري رحمه الله وايي چي دصحیح البخاري ۹۰ زره شاګردانو سماع کړي خوپه هغوی کې له ماپرته بل څوک نشته چې له مصنف نه دهغې روایت وکړي ، یعني دصحیح بخاري نسخه له ماپرته له کوم بل چاسره نشته.

خوعلامه ابن حجر دفتح الباري په مقدمة ۴۹۱ کې په هغه نیوکه کړي اوویلي یې دي چې: ده داخبره دخپل علم له امله کړي چې ده ته بل څوک داسي نه دي معلوم چې دصحیح بخاري روایت دي یې کړی وي ، کنه نو ډیرو نورو کسانو لکه ابي طلحة منصور بن محمدبن علی بن قريبه هم ددي روايت کړی.

په هرصورت ترموږپوري دصحیح البخاري نسخي په لاندینی ځلورو روایاتوسره رارسیدلي

لمړۍ نسخه : دابوطلحة منصور بن محمدبن علي بن قريبه البزدوي المتوفی ۳۲۹ هـ په روايت سره.

دوهمه نسخه: دابراهيم بن معقل النسفي المتوفی ۲۹۴ هـ په روايت سره

دريیمه نسخه : دحماد بن شاکر النسفي [په ځینو کې دالنسفي په ځای النسوي لیکل شوی] المتوفی ۲۹۰ هـ په روايت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورمه نسخه : دمحمدبن يوسف بن مطر بن صالح بن بشر الفربري المتوفى ۳۲۰ هـ په روايت سره

په اوسني وخت کې له همدي آخري ځلورمي نسخي پرته هيڅوک دصحيح بخاري روايت نه کوي اويوائي همدا نسخته پاتي ده ، لکه د ابن الاثيرپه جامع الاصول ۱/۱۸۵ همداراز ابن حجر دفتح الباري په مقدمه ۴۹۱ او ابن کثير په البداية ۱۱/۱۳ کې دهمدي خبري تصريح شوي

دصحيح البخاري دحديثونو شمېر

امام النووي رحمه الله په خپل مختصر ـ الارشاد ـ کې وايې:په صحيح بخاري کې ټول ټال اوه زره ، دوه سوه پنځه اويا ( ۷۲۷۵ ) حديثونه دي چې مکررات ورسره شمارکړل شوي ، خوکه مکررات ترې ليري کړل شي نو بيا ځلورزره (۴۰۰۰) پاتي کيږي

خوحافظ ابن حجر دفتح الباري په مقدمة ۴۶۵ مخ کې ليکي: امام نووي رحمه الله چې کومه خبره کړي دايې دابو الفضل بن طاهر له کتاب نه نقل کړي ځکه هغه دبخاري ټول بابونه شمارلي اوبيا يې سره جمع کړي ، نو وروسته راتلونکوکسانو دنيک ګمان له امله په همدي اعتبارکړی اودهغه تقليديې کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوابن حجر رحمه الله وايې : مادبخاري شريف ټول حديثونه باب په باب شمارکړل چې ټول احاديث يې له متعلقاتو او متابعاتو پرته چې ماليکلي اوزماوربانديې يقين شوى اوه زره ، درې سوه ،اوه نوې(۷۳۹۷) حديثونه دي ، چې په دي سره ددوى ترذکرشويو حديثونوه يوسل دوه وېشت حديثونه زيات دي

يعني دلمړني قول مطابق په بخاري شريف کې ټول **۷۲۷۵** حديثونه دي

اودابن حجر دقول مطابق بيا ټول ۷۳۹۷ حديثونه دي چې دده په قول کې ۱۲۲ حديثونه ترلمړني تحقيق زيات دي.

داخود مسندحديثونو شمارؤ ، پاتي شوه معلق اومتابعات نو حافظ ابن حجرپه مقدمة الفتح ۴۶۹ کې وايې : په ټول کتاب کې تعليقات يوزر ،درې سوه ، يوځلويښت (۱۳۴۱) حديثونه دي ، اومتابعات اوتنبيه علي الروايات درې سوه يوځلويښت (۳۴۱) دي ، چې په دي سره په ټول کتاب کې شته احاديث سره له مکرراتو (۹۰۸۲) نهه زره دوه اتيا ته رسيږي ،

خوله نوموړي په دي حساب کې تېروتنه شوي ، په حقيقت کې خپله دهمده دقول مطابق په بخاري شريف کې ټول احاديث له مکرراتو سره (۹۰۷۹) نهه زره نه اويادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه مسند حديثونه يکې (۷۳۹۷) دي

اومعلق يکـــــــــــې ( ۳۱۴۱ ) دي

اومتابعـــــــات يکې(۳۴۱ ) دي

چې ددي ټولو مجموعه (۹۰۷۹ ) کيږي

ديادوني ده چې دغه پورتنۍ شميره له هغه موقوف اومقطوع حديثونوپرته ده چې په بخاري شريف کې ذکرشوي دي.

دبخاري شريف شروحات

ډيروپخوانيو اواوسنيو علماؤ دبخاري شريف په شروحاتو ، درس اوتدريس ،تعليق تخريج اوتلخيص اونورو اړخونو خدمتونه کړي چې ترسلهاؤ يې شميرزياتيږي

له مشهورو شروحاتوڅخه يې ، اعلاء السنن ، دابوسليمان الخطابي شرح ، دحافظ علاء الدين الحنفي شرح ، الکوکب الدراري دحافظ کرماني شرح ، دحافظ قطب الدين الحلبي الحنفي شرح ، اوترټولو مشوره شرحه يې فتح الباري دحافظ ابن حجر العسقلاني ، اوعمدة القاري دحافظ بدرالدين العيني الحنفي رحمهما الله دي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل کيږي فتح الباري دمصنف په اجازه ترعلامه عيني پوري ورسيده کله چې يې په احنافو دهغه ردونه وليدل نو په عمدة القاري کې يې دهغه تعقيب وکړ ، کله چې دنوموړي شرح عمدة القاري ابن حجرته ورسيده نويې دهغه اعتراضونه په يوه کتاب [ انتقاض الاعتراض ]کې راغونډکړل دځينويې جوابونه وليکل ، اودځينو دجواب لپاره يې بياض پريښود ، ابن حجر لادا کتاب پوره نکړ له دي نړۍ يې سترګې پټې کړي ، انا لله وانا اليه راجعون

اوله دي وروسته چې کوم شارحين دي نوهغوی له فتح الباري اوعمدة القاري څخه اخذکړی لکه الخيرالجاري دملامحمديعقوب ، اودعلامه القسطلاني شرح.

ددیوبندعلماؤ دبخاري شريف په هرلحاظ درس تدريس اوشروحاتوسره تربل هرچاښه خدمت کړی چې ديوڅوشروحاتويادونه به يې دلته وکړو

د ديوبندي علماوو له طرفه د بخاري شريف شروحات:

(١) فيض الباري على صحيح البخاري.

دا د امام شاه انورشاه کشميري رحمة الله عليه په شرق او غرب ، عربو او عجمو کي يوه مقبوله ، معتبره او مستنده شرحه ده ، چي په شپږو ټوکونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بار بار چاپ شوي.

(۲) تعلیقات جامعة علی صحیح البخاري د شیخ الحدیث احمد علي سهارنپوري، ډیره مفیده حاشیه او تعلیق دی، البته د بخاري په پنځه ویشتو اجزاوو لیکلي شوي، او په پاتي پنځه اجزاوو د شیخ صاحب شاګرد محمد قاسم نانوتویی تعلیق او حاشیه لیکلي.

(۳) الابواب والتراجم للبخاري، شپږ ټوکه، د مولانا زکریا رحمه الله.

(۴) لامع الدراري علی صحیح البخاري، لس ټوکه.

دا د شیخ زکریا رحمه الله پلار شیخ محمد یحیی د حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله د بخاري درسونه را جمعه کړي.

چي بیا ورسته شیخ محمد زکریا رحمه الله دا شرحه عربي ته ژباړلي او د ۱۲ کاله محنت څخه ورسته یي عام محضر ته وړاندي کړي.

(۵) انوار الباری فی شرح صحیح البخاری دا هم د شیخ انورشاه کشمیري رحمه الله په اردو ژبه کي د بخاري درسونه دي چي مولانا احمد رضا بجنوري صاحب جمعه او ترتیب کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) ایضاح البخاري ، څلور ټوکه.

دا د شیخ فخر الدین احمد مرادآبادی رحمه الله د درسونو مجموعه ده چي شیخ ریاست علي بجنوری صاحب یې جمعه او ترتیب کړي.

(۷) شرح تراجم البخاری: د شیخ الهند مولانا محمود حسن دیوبندی

(۸) شرح تراجم البخاری: شیخ مولانا محمد ادریس کاندهلوی

(۹) التقریر علی صحیح البخاری: شیخ محمد زکریا کاندهلوي، شیخ محمد یونس

(۱۰) ارشاد القاری الی صحیح البخاری: شیخ مفتی رشید احمد لدهیانوی

(۱۱) تلخیص البخاری شرح صحیح البخاری: شیخ شمس الضحی مظاهری

(۱۲) تحفة القاری فی حل مشکلات البخاری: شیخ محمد ادریس کاندهلوی۔

(۱۳) امداد الباری فی شرح البخاری: شیخ عبد الجبار اعظمی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۴) جامع الدراری فی شرح البخاری: شیخ عبد الجبار اعظمی

(۱۵) التصویبات لما فی حواشی البخاری من التصحیفات: شیخ عبد الجبار اعظمی۔

(۱۶) الخیر الجاری علی صحیح البخاری: شیخ خیر محمد مظفر گڑھی۔

(۱۷) النور الساری علی صحیح البخاری: شیخ خیر محمد مظفر گڑھی

-(۱۸) احسان الباری لفہم البخاری: شیخ محمد سرفراز خان صفدر۔

(۱۹) جواہر البخاری علی اطراف البخاری: شیخ قاضی زاهد حسینی۔

(۲۰) انعام البخاری فی شرح اشعار البخاری: شیخ عاشق الهي بلندشهری ومهاجر مدنی

(۲۱) دروس بخاري، د شيخ حسين احمد مدني رحمه الله ، دا د شيخ نعمت الله صاحب له خوا مرتبه شوي چي ځيني ټوکونه يې چاپ شوي هم دي.

(۲۲) ترجمة صحيح بخاری، د شیخ شبیر احمد عثمانی رحمه الله(۲۳) فضل الباری شرح صحیح بخاری ، د شیخ شبیر احمد عثمانی رحمه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۴) النبراس الساری فی اطراف البخاری، دوه ټوکه.

دا شیخ عبدالعزیز ګوجرانوالا له طرفه په عربي ژبه کي لیکل شوي شرحه ده، په دي اړه دده حاشیه د ((مقیاس الواري علی النبراس الساری)) په نوم هم ډیره د اهمیت وړ ده.

(۲۵) تحقیق وتعلیق لامع الدراری علی جامع البخاری: شیخ محمد زکریا کاندهلوی

(۲۶) انعام الباری شرح بخاری: شیخ محمد امین چاټګامی

(۲۷) نصر الباری شرح البخاری، خوارلس ټوکه.

دا د شیخ عثمان غني صاحب له طرفه لیکل شوي شرحه ده.

(۲۸) تفهیم البخاري دا د شیخ ظهور الباری اعظمی قاسمی له طرفه په اردو کي لیکل شوي شرحه ده.

(۲۹) حمد المتعالی علی تراجم صحیح البخاری، دا د شیخ سید بادشاه ګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمه الله شرحه ده. نوموړی د شیخ حسین احمد مدني رحمه الله شاګرد وو.

(۳۰) فضل البخاري فی فقه البخاري، دا د شیخ عبد الروف صاحب شرحه ده، نوموړي د شاه انورشاه کشمیري شاګرد وو.

(۳۱) تسهیل الباری فی حل صحیح البخاری: دا د شیخ صدیق احمد باندوی رحمه الله شرحه ده.

(۳۲) کشف الباری عما فی صحیح البخاری، پنځلس ټوکه چاپ او په نورو کار روان دی، دا د شیخ سلیم الله خان حفظه الله یوه ډیره مفیده او جامعه شرحه ده، چې اصلا دده له درسونو څخه ترتیب شوي او بیا له تحقیق او تخریج نه ورسته چاپ شوي.

(۳۳) شرح البخاری، تجرید البخاری: شیخ محمد حیات سنبلهی، نوموړی د شیخ مفتي محمد عاشق الهي استاذ تیر شوی.

(۳۴) انعام الباری، دروس بخاری شریف، شپاړس ټوکه.

دا د مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب د درسونو مجموعه ده، ترتیب ورکونکی یې مولانا مفتی محمد انور حسین دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دامام بخاري رحمه الله نور تصانيف

امام بخاري حمه الله ډېر کتابونه تصنيف کړي دي لکه الأدب المفرد ، بر الوالدين ، تاريخ الكبير ، تاريخ الأوسط ، تاريخ الصغير ، خلق افعال العباد.جزء رفع اليدين ، جزء قراءة خلف الامام ،برالوالدين ،كتاب الضعفاء ،

حافظ ابن حجر رحمة الله عليه وايي : دا کتابونه ټول موجود دي او په اوربدلو يا اجازه يې موږ ته روايت شوى دى.

امام بخاري رحمة الله عليه له دې پرته نور تصنيفونه هم لري لکه ، جامع الكبير ، مسند الكبير ، تفسير الكبير ، كتاب الأشربة ، كتاب الهبة ، أسامي الصحابة ، كتاب الوحدان ، كتاب المبسوط ، كتاب الكنى ، كتاب الفوائد او كتاب العلل.

## مأخذونه

١ - فتح الباري
٢ - سير أعلام النبلاء للحافظ شمس الدين الذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ - تاریخ بخاری .
۴ - مقدمة فتح الباري، لابن حجر العسقلاني
۵ - البداية والنهاية، لحافظ عماد الدين ابن كثير
٦ - مقدمة شرح صحيح مسلم - يحيى بن شرف النووي
٧ - تهذيب الكمال
٨ - أصول التاريخ والأدب
٩ - جامع الاصول لابن الاثير
١٠ـ موجز تراجم الائمة لمحمد هاشم الايوبي
١١ـ فتح الملهم ، علامه شبير احمد عثماني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**